# دافغانستان اسلامي جمهوریت

# دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

فوق العاده ګڼه

## دتاریخي- فرهنګی آثارو دننداړتون دداېرېدو مقرره

دچاپ نېټه : د ۱۳۸۴ هـ.ش کال د مرغومي د میاشتې (۲۵) _ پرله پسې ګڼه (۸۷۲)

د امتیاز خاوند : دعدلیې وزارت
مسؤول چلوونکی : عبدالرشید "قیومي"
مرستیال : نور علم
مهتمم : محمد جان

دتاريخي– فرهنگي آثارو
دننداړتون د داېرېدو
دمقررې په هکله
دوزيرانو شورى
مصوبه

گڼه : ( ۳۴ )

نېټه : ۱۳۸۴/۹/۲٦

دتاريخي – فرهنگي آثارو دننداړتون د داېرېدو مقرره چې دپنځو فصلونو او (۲۲) مادو په ترڅ کې د وزيرانو شورى په واسطه تصويب شوېده، توشيح کوم .

دغه مقرره دتصويب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريده کې دې خپره شي .

حامدکرزى

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

مصوبه

شوراى وزيران جمهورى اسلامى افغانستان درمورد مقرره تدوير نمايشگاه آثار تاريخى– فرهنگى

شماره : ( ۳۴)

تاريخ : ۱۳۸۴/۹/۲٦

مقرره تدوير نمايشگاه آثار تاريخى– فرهنگى جمهورى اسلامى افغانستان راكه درپنج فصل (۲۲) ماده توسط شوراى وزيران تصويب گرديده توشيح ميدارم.

اين مقرره از تاريخ تصويب نافذ ودر جريدهٔ رسمى نشر گردد .

حامد كرزى

رئيس جمهورى اسلامى افغانستان

## فهرست مندرجات

## مقرره نمایشگاه آثار تاریخي– فرهنگی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول: | مبنی ........................................... | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف........................................... | ۱ |
| مادۀ سوم: | ساحه تطبیق ........................................... | ۱ |
| مادۀ چهارم : | کمیته تدویر نمایشگاه.......................... | ۲ |


### فصل دوم

### تدویر نمایشگاه آثار واشیای فرهنگی – تاریخی ملی وخصوصی درداخل کشور


| | | |
| --- | --- | --- |
| مادۀ پنجم: | تدویر نمایشگاه .......................... | ۲ |
| مادۀ ششم: | مصارف تدویر نمایشگاه.......................... | ۳ |
| مادۀ هفتم: | فهرست وعکاسی قابل نمایش در داخل .............. | ۳ |

## فصل سوم

## تدویر نمایشگاه آثار واشیای تاریخی – فرهنگی ملی درخارج کشور


مادهٔ هشتم: تدویر نمایشگاه ها درخارج..................۳

مادهٔ نهم: فهرست وعکاسی آثار قابل نمایش درخارج.........۳

مادهٔ دهم: حق به نمایش گذاشتن آثار تاریخی– فرهنگی
سایر ادارات............................................۴

مادهٔ یازدهم: معافیت محصول گمرکی ........................۴

مادهٔ دوازدهم: مکلفیت تدویر کننده گان.......................۴

مادهٔ سیزدهم: حتمی بودن حضور کمیته تدویر نمایشگاه...........۵

مادهٔ چهاردهم: حق به نمایش گذاشتن آثار تاریخی – فرهنگی
سایر اشخاص..........................................۵


## فصل چهارم

## تدویر نمایشگاه های آثار واشیای تاریخی – فرهنگی،خارجی درافغانستان


مادهٔ پانزدهم: هدف نمایشگاه خارجی ..........................۵

مادهٔ شانزدهم: تدویر نمایشگاه موزیم های خارجی درافغانستان......۶

مادهٔ هفدهم: فهرست وعکاسی آثار تاریخی درسرحد...............۶

مادهٔ هجدهم: پرداخت عواید به تدویر کننده.......................۶

## فصل پنجم

## احکام نهائی


مادهٔ نزدهم: مصؤونیت انتقال ...............................٦

مادهٔ بیستم: عواید نمایشگاه..............................٧

مادهٔ بیست ویکم: محتوای قرارداد تدویر نمایشگاه باکشورخارجی ......٧

مادهٔ بیست ودوم: نشر وانفاذ ........................................٧

بسم الله الرحمن الرحیم

## دتاریخي–فرهنګي آثارو دننداړتون ددایرېدومقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني:**

**لومړی ماده:**

دغه مقرره دافغانستان دتاریخي – فرهنګي آثارو دساتنې دقانون دپنځه شپېتمې او څلوراتیایمې مادو دحکمونو په رڼاکې، په هېواد کې دننه او بهر دتاریخي– فرهنګي آثارو اوشیانو دننداړتون د دایرېدو داړوندو چارو دتنظیمولوپه منظور وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

دغه مقرره دلاندې موخولرونکې ده:

۱–دهېواد دملي فرهنګ د ودې او بډاینې په منظوردتاریخي– فرهنګي آثارو معرفي کول(پېژندګلوي).

## مقررۀ تدویر نمایشگاه آثار تاریخی – فرهنگی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول :**

این مقرره در روشنی احکام مواد شصت وپنجم وهشتاد وچهارم قانون حفظ آثار تاریخی – فرهنگی افغانستان بمنظور تنظیم امور مربوط به تدویر نمایشگاه آثار واشیای تاریخی – فرهنگی در داخل وخارج کشور وضع گردیده است .

**اهداف**

**مادۀ دوم :**

این مقرره دارای اهداف ذیل میباشد :

۱– معرفی آثار واشیای تاریخی – فرهنگی بمنظور رشد وغنامندی فرهنگ ملی کشور .

۲– له هېواد څخه بهر دتــاريخي آثارو اوشيانو دننندارتونونود دايرولو دلارې دافغانستان دتاريخي فرهنگ اوتمدن معرفي كول.

۳–دكورنيو،بهرنيواونړيوالومؤسسو له فرهنگي مراجعوسره دفرهنگــي همكاريوټينگول او ورته پراختياوركول.

۴– پـــه هېـــواد كـــې دننـــه اوبهردافغانستان دتاريخي–فرهنگي آثارو او شــيانو دننــداري دلارې ،دهيواد دفرهنگي اوعلمي بسنتونو او مؤسسو دفعاليتونو وده او تقويه كول.

**دتطبيق ساحه**

**دريېمه ماده:**

ټول هغه منقــول فرهنگـــي آثـــار اوشيان چې له تاريخي،علمي،مذهبي ،هنـــري او فرهنگـــي پلـــوه د لوړ(برجسته) او استثنائي ارزښـــت لرونكـــي وي، ددغـــې مقـــررې دحكمونو مطـــابق ننداري تــه ايښودل كيداى شي.

۲– معرفی فرهنگ وتمدن تاریخی افغانـــستان ازطريـــق تـــدوير نمايشگاه هـــای آثـــار واشـــيای تاريخی– فرهنگی درخارج كشور .

۳– تحكيم وتوسعه همكاری های فرهنگی بامراجع فرهنگی داخلی، خارجی ومؤسسات بين المللی .

۴– رشد وتقويت فعاليـــت هـــای فرهنگی وعلمی نهادها ومؤسسات فرهنگی كشور ازطريق نمايش آثار و اشـــيای تـــاريخی – فرهنگـــی افغانـــستان در داخـــل وخـــارج كشور .

**ساحۀ تطبيق**

**مادۀ سوم :**

تمـــام آثـــار واشـــيای فرهنگـــی منقـــول كـــه ازنظـــر تـــاريخی ، علمی، مـــذهبی،هنری وفرهنگـــی دارای ارزش برجـــــــــــــسته واســـتثنايی باشـــند، مطـــابق احكام اين مقـــرره بـــه نمـــايش گذاشته شده ميتواند.

منقول تاریخي– فرهنګي آثار اوشیان عبارت دي له:

۱– عتیقه آثار اوشیان،تاریخي سکې،درسامي اونقاشۍ آثار ، خطي نسخې، کتیبې او هغه غیرملموس هنري آثار چې په سمعي او بصري نوارونو (فیتو) کې ثبت شوي وي.

۲– هغه ټوټې (پارچې) اوشیان چې له منقوشو، مغارو،تاریخي ودانیو او فرهنګي آبدوڅخه بېلې او په منقول حالت راوړل شوي وي.

۳– په فردپورې منحصر علمي،مذهبي ، هنري ټوټې (پارچې) ،آثار اوشیان،لاسي او ادبي صنایع.

## دنندارتون د دایرولوکمیته

**څلورمه ماده:**

(۱) دتخنیکي، تخصصي مشورو د وړاندې کولو، دقرارداد د عقدولو، دنندارتون د دایرېدو دځای دټاکلو او په هېواد کې دننه یابهر دنندارې لپاره دافغانستان دتاریخي – فرهنګي آثارو دمؤقت لېږد

آثار و اشیای تاریخی – فرهنگی منقول عبارتند از :

۱– آثار و اشیای عتیقه ، سکه های تاریخی، آثار رسامی ونقاشی ، نسخ خطی ،کتیبه ها وآثار هنری غیر ملموس ایکه در نوارهای سمعی وبصری ثبت شده باشد .

۲– پارچه ها واشیای که از منقوشه ها ، مغاره ها ، عمارات تاریخی وآبدات فرهنگی جدا وبه حالت منقول درآمده باشد .

۳– پارچه ها، اثار و اشیای علمی، مذهبی، هنری، صنایع دستی وادبی منحصر به فرد .

## کمیتهٔ تدویر نمایشگاه

**مادهٔ چهارم :**

(۱) بمنظور ارائه مشوره های تخنیکی، تخصصی، عقد قرارداد، تعیین محل تدویر نمایشگاه واخذ تصمیم جهت انتقا ل مؤقت آثار واشیای تاریخی – فرهنگی افغانستان

لپاره دتصميم دنيولو پـه منظـور، دننــــدارتونونو د دايرولــــو كميته جوړيږي.

(۲) دنندارتون د دايرولوكميتـه د لرغـون پيژنـدنې دكميتـې لـه غړو،دملي آرشيف ديوه تن استازي او دملي نګارستان لـه يـوه تـن استازي څخه جوړه ده.

## دوه يم فصل

## په هيواد كې دننه دملي او خصوصي تاريخي – فرهنګي آثارو اوشيانو دنندارتون دايرول

**دننداړتون دايرول**

**پنځمه ماده:**

(۱) دافغانـــستان د تـــاريخي او فرهنګي آثارو دساتنې دقـانون د دري پنځوسمې مادې په (۱ او ۲) اجزاوو كې د درج شويو موزيمونو دتاريخي – فرهنګي آثارو اوشيانو نندارتون، دجوړيدوځاى ، نيټـه او

غـــرض نمـــايش در داخـــل ياخارج كشور ، كميتـه تــدوير نمايشگاه ها ايجاد ميگردد .

(۲) كميتــه تــدوير نمايـــشگاه متـــشكل از اعـــضاى كميتـــه باستانـــشناسى ، يكنفـــر نماينـــده آرشيف ملـى ويكنفـر نماينـده نگارستان ملى ميباشد .

## فصل دوم

## تدوير نمايشگاه آثار واشياى تاريخى – فرهنگى ملى وخصوصى در داخل كشور

**تدوير نمايشگاه**

**مادۀ پنجم :**

(۱)نمايـــشگاه آثـــار واشـــياى تاريخى – فرهنگى مـوزيم هـاى منـــدرج اجـــزاى (۱و۲) مـــاده پنجـــاه وســـوم قـــانون حفـــظ آثارتاريخى –فرهنگى افغانـــستان، محـــل برگـــزارى ، تـــاريخ

دهغه موده داطلاعاتو ،فرهنـــگ او تـــوريزم وزارت پـــه وړانـــديز ، دننـــدارتون د دايرولـــو دکميټـــې دموافقې او دوزيرانو دعالي مجلس په تصويب دأيريږی.

(۲) د افغانـــستان د تـــاريخي او فرهنگي آثارو دساتنې دقـــانون د درې پنځوسمې مادې په (۳) جزء کـــې د درج شـــويو موزيمونـــو دتاريخي – فرهنگي آثارو اوشيانو نندارتون،دننـــدارتون د دايرولـــو دکميټې په موافقه دايريږي.

## دنندارتون د دايرولو لگښتونه

شپږمه ماده:

له موزيم اونوروهغوځايونو څخـــه چې آثار پکې ساتل کېـــږي بهـــر دافغانستان دتاريخي–فرهنگي آثارو اوشيانو دننـــدارتونونو د دايرولـــو لگښتونه ، دلېږد دلگـــښتونو پـــه شمول دننـــدارتون د دايروونکـــي (غوښتونکي هېـــواد) پـــه غـــاړه دي.

ومدت آن بـــه پيـــشنهاد وزارت اطلاعات ، فرهنـــگ وتـــوريزم ، موافقه کميته تـــدوير نمايـــشگاه وتصويب مجلـــس عـــالی وزراء تدوير می يابد .

(۲) نمايـــشگاه آثـــار واشـــيای تاريخی –فرهنگی مـــوزيم هـــای منـــدرج جـــزء (۳) مـــاده پنجاه وسوم قـــانون حفـــظ آثـــار تاريخی – فرهنگـــی افغانـــستان بـــه موافقـــهٔ کميتـــه تـــدوير نمايشگاه تدوير می يابد.

## مصارف تدوير نمايشگاه

مادهٔ ششم :

مصارف تدوير نمايشگاه های آثارو اشـــيای تـــاريخی – فرهنگـــی افغانستان خارج از موزيم وســـاير محلاتيکه آثـــار در آن نگهـــداری ميشود، بشمول مصارف انتقـــا ل بـــدوش تـــدوير کننـــده نمايـــشگاه(کـــشورمتقاضی) ميباشد .

**په داخل کې دننداريږ وړ آثارو فهرستول او عکاسي کول**

**اوومه ماده:**

دننداريتون د دايرولو کميټه مکلفه ده هغه تاريخي–فرهنگي آثار اوشيان چې د موزيمونو او دهغو دساتلو دنورو ځايونو څخه دباندې لېږدول کېږي، فهرست او عکاسي کړي.

## دريم فصل

## له هېواد څخه بهردملي تاريخي – فرهنگي آثارو اوشيانو دننداريتون دايرول

**په بهرکې دننداريتون دايرول**

**اتمه ماده:**

دافغانستان دتاريخي – فرهنگي آثارو ننداريتون ، دجوړېدوځای ، نېټه او دهغه موده دننداريتونونو دکميټې په موافقه ، د اطلاعاتو، فرهنگ او توريزم وزارت په وړانديز او د وزيرانو د عالي مجلس

**فهرست وعکاسی آثار قابل نمایش در داخل**

**مادۀ هفتم :**

کمیته تدویر نمایشگاه مکلف است آثار و اشیای تاریخی – فرهنگی ایکه جهت نمایش بـه خارج از موزیم ها وسایر محلات نگهداری آن، انتقا ل میگردد، فهرست وعکاسی نماید .

## فصل سوم

## تدویر نمایشگاه آثار واشیای تاریخی – فرهنگی ملی در خارج کشور

**تدویر نمایشگاه ها در خارج**

**مادۀ هشتم :**

نمایشگاه آثار واشیای تاریخی – فرهنگی افغانستان، محل برگزاری ، تاریخ ومدت آن به موافقه کمیته تدویر نمایشگاه ها به پیشنهاد وزارت اطلاعات، فرهنگ و توریزم وتصویب مجلس عالی

په تصویب دأیریږي.

## په بهرکې دننداريې ور آثارو فهرستول او عکاسي کول

**نهمه ماده:**

(۱) دننداريون د دايرولو کمیټه مکلفه ده هغه تاريخي – فرهنگي آثار اوشيان چې دننداري لپاره له هيواد څخه بهرليږدول کيږي،فهرست اوعکاسي کړي.

(۲) دتاريخي –فرهنگي آثارو اوشيانو دفهرست نقل(کاپي) اوتصويرونه داطلاعاتو،فرهنگ او توريزم اوبهرنيو چارو په وزارتونو کې ساتل کيږي.

## دنورو ادارو دتاريخي– فرهنگي آثارو ننداريې ته د ايښبودلو حق

**لسمه ماده:**

وزارتونه ، اداري اوعلمی، فرهنگي مؤسسې او نور اشخاص د قانون دحکمونو مطابق او ددغې مقررې په اتمې مادې کې د درج شوي

وزراء تدوير می يابد .

## فهرست وعکاسی آثار قابل نمايش درخارج

**مادۀ نهم :**

(۱) کميته تدوير نمايشگاه ها مکلف است آثار و اشيای تاريخی – فرهنگی ايکه جهت نمايش به خارج از کشور انتقا ل ميگردد، فهرست وعکاسی نمايد .

(۲) کاپی فهرست وتصاويرآثار واشيای تاريخی – فرهنگی در وزارت های اطلاعات، فرهنگ وتوريزم وامور خارجه حفظ ميگردد .

## حق به نمايش گذاشتن آثار تاريخی – فرهنگی ساير ادارات

**مادۀ دهم :**

وزارت ها ، ادارات ومؤسسات فرهنگی،علمی وساير اشخاص مطابق احکام قانون وبارعايت حکم مندرج ماده هشتم اين مقرره

حکم پام کې نیولوسره کولای شي دافغانستان تاریخي–فرهنګي آثار او شیان په مؤقت ډول له هېواد څخه بهرولېږدوي اونندارې ته ئې کښېږدي.

## دګمرکي محصول معافیت

**یوولسمه ماده:**

هغه تاریخي – فرهنګي آثارچې په نندارتونوکې دننداري ایښودلو په منظور ، له هېواد څخه بهرپه مؤقته توګه لېږدول کېږي،دګمرکي محصول له ورکړې څخه معاف دي.

## د دایروونکو مکلفیت

**دوولسمه ماده:**

(۱) له هېواد څخه بهرد تاریخي – فرهنګي آثارو اوشیانو نندارتون، د دولتونو، نړیوالو سازمانونو او نورو دولتي اوغیردولتي مؤسسو، فرهنګي بنسټونو اودبهرنیو هېوادونو دموزیمونو په غوښتنه په بهرکې

میتوانند آثار واشیای تاریخی – فرهنگی افغانستان رابه خارج از کشور بطور مؤقت انتقا ل وبه نمایش بگذارند .

## معافیت محصول گمرکی

**مادۀ یازدهم :**

آثار واشیای تاریخی – فرهنگی ایکه بمنظور نمایش در نمایشگاه ها به خارج کشور مؤقتاً انتقا ل میگردند از تادیه محصول گمرکی معاف میباشد .

## مکلفیت تدویر کنندگان

**مادۀ دوازدهم :**

(۱) نمایشگاه آثار واشیای تاریخی – فرهنگی درخارج کشور به تقاضای دول، سازمانهای بین المللی وسایرمؤسسات دولتی وغیر دولتی ، نهادهای فرهنگی وموزیم های کشورهای خارجی ازطریق نمایندگی های سیاسی

دافغاني سياسي نمايندگيو اوياپه افغانستان کې مېشت دنومړو هېوادونو دسياسي نمايندگيودلارې دګوښتونکو هېوادونو دفرهنګي اوعلمي مؤسسوپه ګډې همکارۍ دايرېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مراجع مکلفې دي، د ننداړتون له دايرېدو څخه مخکې لاندې مراتب په پام کې ونيسي:

۱-په نړيوالو معيارونو سره دلېږديدونکو تاريخي - فرهنګي آثارو اوشيانو بيمه کول او اړوندې افغاني مسؤولې مرجع ته دهغو دسندنو وړاندې کول.

۲- دهېواد په هوائي ډګرونو او سرحدونو کې دګمرکي پروسې په پام کې نيول.

۳- له اصلي ځاى څخه دننداړتون د دايرېدو ترځايه پورى د تاريخي-فرهنګي آثارو اوشيانو دحمل او نقل او دهغو دبيا لېږد د

افغانی درخارج يا نمايندگی های سياسی کشورهای متذکره مقيم افغانستان به همکاری مشترک مؤسسات فرهنگی وعلمی کشورهای متقاضی تدوير می يابد .

(۲) مراجع مندرج فقره (۱) اين ماده مکلف اند، قبل از تدوير نمايشگاه مراتب ذيل را رعايت نمايند :

۱- بيمه آثار و اشيای تاريخی - فرهنگی انتقال شونده به معيارهای بين المللی وارائه اسناد آن به مرجع ذيربط مسوول افغانی .

۲- رعايت پروسه گمرکی در ميدان های هوايی وسرحدات کشور .

۳- پرداخت مصارف حمل ونقل آثار و اشيای تاريخی - فرهنگی از محل اصلی الی محل تدوير نمايشگاه

لګښتونو ورکول.

۴–په اړوند هېوادکې دامنيتي، ساتنيزو(تحفظی) اومسلکي تدبيرونو نيول.

۵– دافغانستان دولت ته دننداړتون دنګه (خالصو) عوايدو کم ترکمه له سلوڅخه دشلودورکړې دژمنې ورکول ، خوداچې په بل ډول موافقه وشي.

**د ننداړتون د دايرولو دکميټې دحضورحتمي والي**

**ديارلسمه ماده:**

دبهرنيو هېوادونو په ننداړتون کې دتاريخي–فرهنګي آثارو اوشيانو لېږدول اوننداره دننداړتون د دايرولو دکمېټې دهيئت په حضور کې صورت مومي.

**د نورو اشخاصو د تاريخي – فرهنګي آثارو ننداړې ته دايښودلو حق**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) انجمنونه، فرهنګي بنسټونه

وانتقال مجدد آن .

۴– اتخاذ تدابير امنيتی، تحفظی ومسلکی درکشور مربوط .

۵– تعهد مبنی بر پرداخت حد اقل بيست فيصد عوايد خالص از نمايشگاه به دولت افغانستان، مگراينکه طور ديگری موافقت صورت گيرد.

**حتمی بودن حضور کميته تدوير نمايشگاه**

**مادهٔ سيزدهم :**

انتقال ونمايش آثار و اشيای تاريخی – فرهنگی درنمايشگاه کشورهای خارجی باحضورداشت هيأتی از کميته تدوير نمايشگاه صورت می گيرد .

**حق به نمايش گذاشتن آثار تاريخی – فرهنگی ساير اشخاص**

**مادهٔ چهاردهم :**

(۱) انجمن ها، نهادهای

اودځانګړو موزيمونـــو لرونکـــي نوراشخاص کولای شــي ددغــې مقررې په اتمې مادې کــې ددرج شوي حکم له په پام کې نيولوسره، لــه هېــواد څخــه بهرداړونــدو تاريخي– فرهنګي آثارو اوشيانو د نندارتونوپه دايرولــولاس پــورې کړي.

(۲) انجمنونه، فرهنګي بنسټونه او دځانګړو موزيمونو لرونکي نــور اشخاص مکلف دي له هېواد څخه بهر دنندارتون د دايرولولپاره، پــه افغانستان کې مېــشت دبهرنيــو هېوادونو له سياسي نمايندګيو څخه چې نندارتون په هغه کې دايرېږي، ليکلې موافقه ترلاسه کړي.

(۳) انجمنونه، فرهنګي بنـــسټونه اودځانګړو موزيمونـــو لرونکـــي نـــور اشــــخاص مکلـــف دي تاريخي – فرهنګي آثـــار اوشـــيان دننـــداري ځـــای تـــه ولېـــږدوي اودنندارې له پـــای تـــه رســـېدو

فرهنگـــــی وســـــاير اشـــــخاص دارای موزيم هـــای اختـــصاصی ميتوانند بارعايت حکـــم منـــدرج ماده هشتم اين مقرره بـــه تـــدوير نمايشگاه هـــای آثـــار واشـــيای تـــاريخی – فرهنگـــی مربـــوط درخـــارج از کـــشور مبـــادرت ورزند .

(۲) انجمن ها ، نهادهای فرهنگی و ساير اشخاص دارای موزيم های اختصاصی مکلف اند جهت تدوير نمايشگاه در خـــارج از کـــشور موافقه کتبی نماينـــدگی سياســـی کشورهای خارجی مقيم افغانستان را که نمايـــشگاه در آن تـــدوير می يابد ، حاصل نمايند.

(۳) انجمن ها، نهادهای فرهنگی و ساير اشخاص دارای موزيم هـــای اختصاصی مکلف اند آثار و اشيای تاريخی – فرهنگی را بـــه محـــل نمايش انتقال نموده و بعد از ختم نمايش آنرا مجدداً طور مـــصئون

وروسته هغه بېرته په مصؤن اواصلي توگه ړومبني ځای ته ولېږدوي .دغه موضوع په اړوند موافقت لیک کې هم درجېږي.

## څلورم فصل

## په افغانستان کې دبهرنیو تاریخي–فرهنگي آثارو اوشیانو دننداړتونودایرول

**دبهرني ننداړتون موخه**

**پنځلسمه ماده:**

په افغانستان کې دبهرنیو تاریخي– فرهنگي آثارو اوشیانو ننداړتونونه دلاندې موخوپه منظور دایرېږي:

۱– دټولنې دفرهنگي ،علمي، اقتصادي اوسیاسي پوهاوی‌دسطحې دلوړولو په منظور دبهرني فرهنگ اوتمدن معرفی کول(پېژندگلوی).

۲–دتمدنونوترمنځ دتفاهم دتقویت لپاره دعلمي اوفرهنگي څېړنو دزمینې برابرول.

واصلی به محل اولی آن انتقال نمایند.این موضوع درموافقتنامه مربوط نیز درج میگردد.

## فصل چهارم

## تدویر نمایشگاه های آثار و اشیای تاریخی – فرهنگی خارجی در افغانستان

**هدف نمایشگاه خارجی**

**مادهٔ پانزدهم :**

نمایشگاه های آثار و اشیای تاریخی–فرهنگی خارجی،در افغانستان به منظور اهداف ذیل تدویر می یابد:

۱– معرفی فرهنگ وتمدن خارجی بمنظور ارتقای سطح آگاهی فرهنگی ، علمی ، اقتصادی و سیاسی جامعه .

۲– فراهم نمودن زمینه تحقیقات علمی و فرهنگی جهت تقویت تفاهم میان تمدنها .

۳- دملتونو ترمنځ د اړیکیو ټینګښت اودفرهنګي اوعلمي همکاریو پراخول.

**په افغانستان کې دبهرنیو موزیمونو دنندارتون دایرول**

**شپاړسمه ماده:**

د موزیم لرونکې بهرنۍ فرهنګي اوعلمي دولتي اوځانګړې مؤسسې کولای شي د اطلاعاتو، فرهنګ اوتوریزم وزارت په موافقې ، اړوند تاریخي – فرهنګي آثار اوشیان په افغانستان کې ننداري ته کښېږدي.

**په سرحد کې دتاریخي آثاروفهرستول اوعکاسي کول**

**اوولسمه ماده:**

هغه بهرني تاریخي – فرهنګي آثار اوشیان چې دننداري لپاره دافغانستان دننه واردېږي،په ګمرکي سرحدکې دنندارتونونو دایرولودکمیټې لخوا فهرست اوعکاسي کېږي او دفهرست نقلونه (کاپي) دهغو له تصویرونو سره

۳- تحکیم روابط و توسعه همکاری های فرهنگی و علمی میان ملت ها.

**تدویرنمایشگاه موزیم های خارجی درافغانستان:**

**مادۀ شانزدهم:**

مؤسسات فرهنگی و علمی دولتی و خصوصی خارجی دارای موزیم می توانند به موافقه وزارت اطلاعات ،فرهنگ وتوریزم آثار و اشیای تاریخی –فرهنگی مربوط را در افغانستان به نمایش بگذارند.

**فهرست وعکاسی آثار تاریخی در سرحد:**

**مادۀ هفدهم :**

آثار واشیای تاریخی – فرهنگی خارجی که جهت نمایش به داخل افغانستان وارد میگردد، در سرحد گمرکی از جانب کمیته تدویر نمایشگاه ها فهرست و عکاسی گردیده،کاپی های فهرست همراه با تصاویر آن در

یوځـــای داطلاعـــاتو ، فرهنـــگ اوتوریزم اوبهرنیو چارو په وزارتونو کې ساتل کېږي.

## دايروونکي ته دعوايدو ورکړه

اتلسمه ماده:

(۱) په هېواد کې دننـــه دبهرنیـــو فرهنگي آثارو اوشـــیانو دننـــدارې دنگه (خالصو) عوایدوپه ســـلوکې شل هغه هېواد ته چې آثار ورپورې اړه لري، ورکول کېږي ،خودا چې بـــل ډول موافقـــه صـــورت ومومي.

(۲) دبهرني تاريخي – فرهنگـــي آثارو اوشیانو دنندارتون دایروونکي په افغانستان کې دننه دننـــدارتون دلگښتونو دتمویلولـــو مـــسؤول دي.

(۳) هغه فرهنگي آثار او شیان چې دهېواد په دننـــه ننـــدارتونونوکې دننداري لپاره مؤقتـــاً واردېـــږي، دگمرکي محصول له ورکړې څخه معاف دي.

وزارت های اطلاعات ، فرهنـــگ و تـــوریزم و امـــور خارجـــه حفظ میشود.

## پرداخت عواید به تدویرکننده

مادۀ هجدهم:

(۱) بیست فیصد عوایـــد خـــالص نمایش آثار و اشـــیای فرهنگـــی خارجی در داخـــل کـــشور بـــه کشوریکه آثاربه آن تعلـــق دارد، پرداخته میشود ، مگراینکه طـــور دیگـــری موافقـــه صـــورت گیرد.

(۲) تدویرکننـــدگان نمایـــشگاه آثار و اشیای تاریخی – فرهنگـــی خارجی مسوول تمویل مـــصارف نمایشگاه در داخـــل افغانـــستان میباشند.

(۳) آثار و اشیای فرهنگـــی کـــه بمنظور نمایش در نمایشگاه هـــای داخـــل کـــشور موقتـــاً وارد میگردد، از تادیه محصول گمرکی معاف میباشد.

## پنځم فصل
## وروستني حکمونه

**دلېږد مصؤونيت**

**نولسمه ماده:**

(۱) دننداړتون دايروونکي مکلف دي تاريخي – فرهنگي آثار اوشيان دننداري ځای ته په مصؤن ډول ولېږدوي اودننداړې له پايته رسېدو وروسته هغه بېرته په اصلي اومصؤن ډول دهغو ړومبني ځای ته ولېږدوي.

که چېرې دلېږد، ننداړې يابېرته دگرځولو په وخت کې شيانو اوآثارو ته زيان ورسېږي ياورک شي، دايروونکي دهغو دبيمې، ترميمولو اودزيان دجبرانولو مسؤول دي.

(۲) ددې مادې په(۱) فقره کې د درج شويو آثارو اوشيانو دبيې (قيمت) ټآکل ، دافغاني ، دننداړتون ددايروونکو اودملگرو ملتونو دتعليمي ،علمي اوفرهنگي

## فصل پنجم
## احکام نهایی

**مصؤنيت انتقال**

**مادۀ نزدهم:**

(۱) تدوير کنندگان نمايشگاه مکلف اند آثار واشياى تاريخى – فرهنگى را به محل نمايش طور مصؤن انتقال نموده و بعد از ختم نمايش آنرا مجدداً طور اصلى ومصئون به محل اولى آن انتقال نمايند.

هرگاه حين انتقال،نمايش يا بازگردانيدن به اشياء وآثار صدمه وارد يا مفقود شود ، تدوير کنندگان مسوول بيمه ، ترميم و جبران خساره آن ميباشند.

(۲) تعيين قيمت آثار و اشياى مندرج فقره (۱) اين ماده توسط هيات مشترک افغانى ، تدويرکنندگان نمايشگاه و مؤسسه تعليمى ،علمى

مؤسسې(يونسکو) دګډهيئت پـه واسطه ټاکل کېږي اوتثبيتېږي.

## دنندارتون عوايد

شلمه ماده:

(١) دافغانستان دتاريخي–فرهنګي آثارو دساتنې دقانون د دري پنځوسمې مادې په(١ او٢) اجزاوو کې د درج شويو موزيمونو دنندارتونونو د دايرولوڅخه لاس ته راغلي عوايد د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحويلېږي.

(٢) ددغې مقررې په څوارلسمه ماده کې درج دفرهنګي آثارو اوشيانودننداري څخه لاس ته راغلي عوايد دنندارتون د دايرولو ، دفرهنګي ،علمي چارو د ودې اودموزيم دتجهيزولو دلګښتونو دتمويل په منظور ، په نړيوالو معيارونو لګول کېږي.

و فرهنگی ملل متحد (يونسکو) تعيين وتثبيت ميگردد.

## عوايد نمايشگاه :

مادۀ بيستم:

(١)عوايد حاصله از تدوير نمايشگاه های موزيم های مندرج اجزای (١ و٢) ماده پنجاه وسوم قانون حفظ آثار تاريخی –فرهنگی افغانستان به حساب وارادات دولت تحويل بانک ميگردد.

(٢) عوايد حاصله از نمايش آثار و اشيای فرهنگی مندرج ماده چهاردهم اين مقرره بمنظور تمويل مصارف تدوير نمايشگاه ، رشد امور فرهنگی ،علمی وتجهيز موزيم به معيارهای بين المللی بمصرف ميرسد.

## له بهرني هېواد سره دننداړتون د دايرولو دقرارداد محتوي

**يوويشتمه ماده :**

(١) له افغانستان څخه بهرد ننداړتون د دايرولو دقرارداد متن ددغې مقررې په اتمې اودولسمې مادوکې د درج شويو حکمونو له په پام کې نيولوسره ترتيبېږي.

(٢) ددې مادې په (١) فقره کې د درج شوی قرارداد دننداړتون د دايرولو دکميټې د رئيس اودننداړتون د دايرولو دمتصدي دواکمن استازي په واسطه دهېواد په يوه رسمي اوانګليسي ژبو په دوه نقلونو کې ترتيبېږي اودواړه نقلونه ديوشان حقوقي اعتبار لرونکي دي.

## خپرېدل اونافذېدل

**دوه ويشتمه ماده:**

دغه مقرره د تصويب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريدې کې خپرېږي.

## محتوی قرارداد تدویر نمایشگاه با کشور خارجی

**مادۀ بیست ویکم:**

(١) متن قرارداد تدویر نمایشگاه درخارج افغانستان بارعایت احکام مندرج مواد هشتم و دوازدهم این مقرره ترتیب میگردد.

(٢) قرارداد مندرج فقره (١) این ماده از طرف رئیس کمیته تدویر نمایشگاه ونماینده باصلاحیت متصدی تدویر نمایشگاه به یکی از لسان های رسمی کشور و انگلیسی در دونقل ترتیب گردیده وهردو نقل دارای اعتبار یکسان حقوقی میباشد.

## نشر و انفاذ

**مادۀ بیست ودوم:**

این مقرره ازتاریخ تصویب نافذ و درجریدۀ رسمی نشر میگردد.

# اشتراک سالانه

در مرکز و ولایات :(۵۰۰) افغانی

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

خارج از کشور (۱۵۰) دالر امریکائی

قیمت این شماره :(۵۰) افغانی

نمبر تیلفون دیجیتل : (۲۱۰۳۳۷۵)

تیراژ چاپ : (۳۰۰۰) جلد

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

## OFFICIAL
## GAZETTE

**Extra ordinary Issue**

## Regulations of Launching Historical - Cultural Traditions Symposiums

**ISSUE NO : 872**

**Date : 15th JANUARY 2006**

مطبعهٔ آزادی